

# پیل کړئ

ستاسې لاربنود

**(ForældreIntra)**

**-**

## ژبه انګلیسي ته بدله کړئ




په تنظیماتو کې تاسې ژبه انګلیسي ته بدلولی شئ.
یوازې لیدنمخ بدل شوی.
د وړکتون لخوا د محتویاتو هیڅ ژباړه نشته مګر
دا چې پلي یې کړي
.

SkoleIntra

## Forældreintra ته څنګه دننه شو

- وړکتون به تاسې ته یو کارن نوم درکړي. لومړی دننه کیدو لپاره ستاسې رمز ستاسې د پیژندنې شخصي شمیره ( یا هغه کوډ چې د وړکتون لخوا ورکول کیږي) دی.
- د لومړی ځل دننه کیدو سره به له تاسې څخه د رمز بدلولو غوښتنه وشي.

# Forældreintra

# - وړکتون ته نور هم نژدې شئ

Forældreintra د سکولینترا (SkoleIntra) یوه برخه ده – د وړکتون شخصي ارشیف.

**له Forældreintra سره تاسې کولی شئ:**

- په دې اړه چې ستاسې د ماشوم په وړکتون کې څه واقع کیږي تازه معلومات ترلاسه کولی شئ
- د وړکتون له کارکوونکو او نورو والدینو سره اړیکه نیولی شئ
- د پیښو او غونډو لپاره داخله کولی شئ

SkoleIntra

**FORÆLDREINTRA ته ستاسې**

**لاس رسی**

NemID په ځینو ادارو کې خپل پیژند نوم کارول ممکنه ده.

SI

کور پاڼه:

SI

کارن نوم:

its learning

AT THE HEART OF EDUCATION


itslearning Danmark
Nørregade 28A, 1. sal, 1165 København K
**itslearning.dk**

# دغه اپلکیشن
# د چټک لاس رسی او خبرتیاو لپاره وکاروئ

د اسانه لاس رسی لپاره تاسې د iOS او انډراېډ موبایلونو ته د پېنټنټرا اپلکیشن ښکته کولی شئ. تاسې ته به همداراز کله چې ستاسې لپاره کوم خبر وي خبرتیا درکول کیږي. دغه اپلکیشن په مختلفو ادارو کې (ښوونځی او/ یا وړکتون) والدینو ته له ماشومانو سره د لاس رسی یوه واحد ټکي وړاندې کوي.

کله چې لومړی اپلکیشن خلاص کړئ، خپل د ماشوم اداره (وړکتون یا ښوونځی، که چیرې ستاسې ماشوم په مختلفو ادارو کې وي) انتخاب کړئ. د هرې ادارې لپاره چې تاسې یې انتخابوئ، تاسې باید انتخاب شوې ادارې لپاره خپل Forældreintra کارن نوم او رمز داخل کړئ.

که چیرې په یوه اداره کې له یو څخه ډیر ماشومان لرئ، هغوي به ټول په اپلکیشن کې چمتو شي. د چمتو کیدو په جریان کې، تاسې خپل نوی اپلکیشن لپاره رمز جوړولی شئ. د دې سپارښتنه شوې.




دلته تاسې د اپلکیشن تنظیمات بدلولی شئ.

خپل د ټولو ماشومانو یا یوازینی ماشوم لنډیز وګورئ. دغه برخه پورته خواته کش کړئ چې کوچنۍ شي.

خبرتیا ته ولاړ شئ، پیغامونه یا پلانونه. («خبرتیاوې» دلته انتخاب شوي).

دلته پېنټنټرا خلاصولی شئ.

«فورپېرېنټرا» نومل شوی
- ولټوئ: sl I
دغه اپلکیشن له اپ سټور او ګوګل پلې څخه ښکته کولی شئ او ForaeldrenIntra نومیږي.

چټک ښکته ګولو لپاره Qr کوډونه...

چټک ښکته کولو

لپاره Qr کوډونه

# Forældreintraپه ډیرو عامل سیستمونو کې

Forældreintraپه کمپیوټر،
ایپډ/ ټبلېټ او موبایلونو کې استعمالیدی شي



# Forældreintra ستاسې
# په ځیرک موبایلونو کې

ستاسې په ځیرک موبایل کې نوملړ داسې ښکاري:




نوملړ د اونۍ پلانونه، د اړیکې کتاب، خبرونه، او داسې نورو ته لاس رسی وړاندې کوي.

والدینو او کارکوونکو ته پیغامونه واستوئ او له هغوي څخه یې ترلاسه کړئ. نومونه له یو لست څخه انتخابیږي.

په ورته سیمه او ډله کې له ماشومانو سره د کارکوونکو او والدینو د اړیکو معلومات پیدا کړئ.

که چیرې له یو څخه زیات ماشومان لرئ، دلته د هغوي د پاڼو تر منځ انتخاب کولی شئ.

د تنظیماتو په نوملړ کې تاسې ژبه انګلیسي ته بدلولی شئ او د خبرتیا ورځنی ایمیل له خبرونو سره ته نوم ثبتولی شئ.